دانټرنيټ دفارسی سرچينوڅخه
ژباړونکی ؛ عزيزاحمد خوارمل

# ناټو« NATO »

# او

# دناټو« NATO »  پيژندنه !

اتلسمه برخه :

**دشمالی اتلانتيک دنظامي تړون دناټوسازمان ددندو پراختيا!**

**دشمالی اتلانتيک دنظامي تړون دناټوسازمان دجوړيدو په لمړی پړاوکې ، ددی نظامي تړون اصلی دندی  دلويديزبلاک دپاره ديوی ټوليزی امنيتی  سيستم رامنځته کول اودشوروي جمهوريتونوداتحاد اودهغه دملګروهيوادونوپه وړاندی ديوسترځواک رامځته کول وو. دغه دندی د(۱۹۴۹ميلادی کال څخه تر۱۹۹۰)ميلادی کال پوری ادامه او پايښت يې درلود.او دشوروی دړنګيدواو دوارسا دنظامی تړون (ورشو) ختيځ پلوه نظامی بلاک دمنځه وړلوسره سم،ناټوخپل اصلی کړنی يې دلاسه ورکړ. اود(۱۹۹۱) م کال دجون په مياشت کې دډنمارک په پلازمينه کوپنهاګين کې ديوی اعلاميی په خپره ولوسره ناټوهمدارنګه تر دی سرليک لاندی ،داروپا دامنيت دپاره ديوچټک اوګړندی اصلی ارکان په توګه پاته سو . ناټود(۲۰۰۱) م کال راپه دی خوا په نړی کې دخپل ځان درول په بيا تعريفه ولوسره نه يوازی داچې ناټودځان دمنځه وړلوڅخه  يې مخ نيوی وکړ،بلکی دغه نظامي سازمان ديوی ټوليزی نظامي  امنيتی سازمان ترسرليک لاندی دنړيوال کړکيچ په مديريت کولوسره راوبلل سو.**

**ناټودلمړی ځل دپاره  ديوګسلاويا دهيواد په خپل منځی جګړوکې ،په يوی کورنۍ جګړه اوښاری عملياتوکې ورګډسواودلمړی  ځل دپاره يې  په  يرغليزوعملياتويې پيل وکړ. په داهسی حال کې چې مخکې ددی نظامي سازمان پلان او کاريوازی دفاعی عمليات وواونه**

دغسی اوداشانته کړنی . همدارنگه دغه نظامي سازمان دلمړی ځل دپاره دهرزی گویناده‌یواد دسولی په عملیاتوکې هم گډون وکړ.

ناټودکوزوپه کرکیچ کې دملگروملتونواودامنیت دشوراداجرائیوی مرستندوی په توگه تردی سرلیک لاندی په خپل نوې رول یې لاس پوری کړ .په همدی ډول دناټو نظامي ځواکونه دامریکا ترمشری لاندی دصربستان دهیوادپرضد جگړی کې ورگډسواوبرخه یې واخیستل .

اوس مهال ناټودداروپا دځمکنۍ بشپړتیا اصلی امنیت یې دخپلودندو په لمړی سر کې راوستیدی اوپه دی باندی ټینگار کوي چې داروپا امنیت داروپا دگاڼدیوهیوادونوسره دښواړیکوپه رامنځته کولوکې کیدی سي چې رامنځته سي .

ناټودسیاسي اړیکودلاری اوددی اړیکودپراختیا مسئله دهغوسیموپه هکله لکه دمدیترانی سویل اویا ختیځی اروپا اویادپخوانی شوروی اتحاد دهیوادونه دپاره زیارباسی ترڅوچې متناسبه وضعیت په دننه اروپا کې ولري .په همدی ډول سره ناټوددول ،ډول طرحواو وړاندیزونودلاری نوې شرایط دځان دپاره رامنځته کوي ، دشوروی اتحاد په وخت کې دناټوجوړښت یودفاعی اونظامي سازمان وو اوسمهال دغه نظامي تړون په یو امنیتی اوسیاسي سازمان باندی اوښتی دی .

همدااوس دتروریزم ضددعملیاتونوموضوع هم دناټوددندوپه لمړی سرکې ځای لري اودغه کړنلیک دناټوپه لړلیدکې په کلکه سره ترکارلاندی راوستل سوي دي . اوسمهال داسترالیا،سویلی کوریااودجاپان هیوادونه هم ددی نظامي سازمان په پلان کې نیول سوي دي چې دناټوسره دمرسته کولودپاره په نړیوال عملیاتونوکښې ددی هیوادونودځواکونوڅخه دی هم کار واخیستل سي . دجرمنی (المان) لمړی وزیره دناټوپه اړه دامریکادنظریاتوملاتړ کوي . اوناټوپه نظرکې لري چې نړیوال امنیتی اوسیاسي سیمی اوحوزي ترخپل څیرنی،مطالعی اوڅارنی لاندی ونیسي .

**دناټوپه دندوکې بدلونونه :**

ناټو دشوروي دړنگیدو وروسته ، په همدی ډول سره خپل دکړکیچ دوران اووخت ترسره کوي اودانتقالی شرایطوپه وضعیت کې دی اوتراوسه پوری لاخپل ټاکل سوی دندی یې نه دی ترسره کړی اوخپلی موخی یې هم نه دی ترلاسه کړی .

کوم وخت چې دشوروي دولت ونړیدی اوپه هغه پسی دختیځ بلاک چې دوارسادنظامي تړون په نوم یادیدل دغه نظامي تړون هم ورسره له منځه ولاړی ،دوارسا بلاک اویا دختیځی اروپا دهیوادونونظامي تړون په (۱۹۵۵) میلادی کال کې داوو(۷) ختیځې اروپایی هیوادونواودپخوانی شوروی اتحاد دجمهوریتونوترمنځ جوړ اورامنځته سو.




**دوارساتړون چې اصلی نوم یې دختیځې اروپا دهیوادونودمتقابلومرستودتړون په نوم د(۱۹۵۵ )م کال دمی دمیاشتی پر(۱۵) پنځلسمه نیټه باندی رامنځه سوونومول سوځکه چې دشمالی اتلانتیک دنظامی تړون پراختیا وموند اودلویدیزجرمنی (دالمان) دهیواد پیوستون اوغړیتوب دناټوو نظامي تړون ته ومنل سو ،نودوارساتړون له همدی کبله دیوځواب ترسرلیک لاندی دشوروي اتحاداودختیځی اروپا داوو(۷) هیوادونوپه ګډون سره جوړاورامنځته سواوددغو هیــوادونو لکه (شــوروی اتحاد ،ختیځ دمـــــوکرایتک جـــــرمنی(المان)،پـــولند، مجارستان«هنګری»،چکسلواکیا ،رومانیا،بلغاریا اوالبانیا) په ګډه سره ددی تړون (دوارسادتړون)اسنادیې په وارساکې دپولنډدهیواد په پلازمېنه کې لاس لیک کړل،دختیځې اروپا دکمونستی هیوادونوڅخه یوازی دیوګسلاویا هیواد په دی تړون کې یې ګډون ونکړ اودالبانی هیواد په (۱۹۶۱) میلادی کې عملاً په دی تړون کې دفعالیت اوکارکولوڅخه لاس واخیست اوپه( ۱۹۶۸) میلادی کال کې په رسمی توګه ددی تړون څخه ووتی اوځان یې ګوښه کړ .**

**دوارسا نظامي تړون پوره شل (۲۰) کاله یې کار اوفعالیت یې ترسره کړ اودختیځی اروپا دسوسیالستی هیوادونوڅخه په دفاع کولوسره دلویدیزی هیوادونودشمالی اتلانتیک دنظامی تړون دیرغل په وړاندی دوارسا تړون هم رامنځته سو.**

**دوارسا دتړون غړی هیوادونه په ګډه سره پریکړه وکړه اوپه دی اړه هم ږغی سول که پریوهیوادباندی یدکوم هیواد لخوا تیری اویرغل ترسره سي نودغه تیری اویرغل پرټولو هیوادونوباندی ګڼل کیدی سي او ټول غړی هیوادونه په دی هوډمن سول چې په ګډه سره به دهرډول تیری یرغل په وړاندی به پریکړنده دفاع وکړي .**

**دوارسا تړون په سرمشریزه غونډه کې په (۱۹۷۵) میلادی کال کې پریکړه وسول چې د غه تړون دی دنوروشلو(۲۰) کالنودپاره وخپل کار اوفعالیت ته ادامه اوپایښت ورکړی .**

**د (۱۹۹۰) م کال په لمړیوکي کله چې دختیځی اروپادهیوادونوکمونستی رژیمونه نسکوره سول اودشوروي اتحاد دجمهوریتونو هیواد هم راونړیدی دوارسا تړون هم ونړیدی اودمنځه ولاړی اوددی نړیدلی تړون یوشمیرغړی هیوادونه دشمالی اتلانتیک دنظامی تړون ،دناټووسازمان ته یې دغړیتوب اوګډون دپاره غوښتنلیکونه یوپه بل پسی وړاندی کړ . وروسته د(۱۹۸۹) میلادی کال څخه دختیځی اومرکزی اروپا هیواد ونه دوارسا د تړون و ملاتړ ته یې کومه پاملرنه اوتمایل یې نه درلود.**

په (۱۹۹۱) میلادی کال دجنوری په میاشت کې دچکسلواکی ،پولنډاودمجارستان(هنګری) هیوادونه اعلان وکړ چې د(۱۹۹۱) میلادی کال دجنون دمیاشتی ترلمړی نیټی پوری ددی تړون څخه په تولیزه توګه سره ګوښه کیږی . او د(۱۹۹۱) میلادی کال دجولای په میاشت کې دبلغاری هیوادهم ځان یې دوارسا دتړون دغړیتوب څخه خلاص کړ.
په همدی ډول سره بلاخره دوارسا تړون دچکسلواکی دجمهوریت دپراک په پلازمېنه کې د(۱۹۹۱) میلادی کال دجولای دمیاشتی په یوه غونډه کې دټولوغړوپه ګډون سره ددغه تړون دمنځه وړلو پریکړه یې وکړ اودغه نظامي تړون دمنځه ولاړي .

## دناټومخ ته پراته خنډونه اوستونزي :

ناټوډېرشمیرعملیاتی(سیمه یز) اودپیژندنی (موضوعی) خنډونواوستونزوسره مخامخ دی اودخپل پیژاندنی اوکارکولوپه هکله دډېروبنسټیزوپوښتنوسره هم مخامخ دي . په دی اړه کولای سوچې ددی نظامي تړون ستونزي په یوشمیر سیموکښې لکه په افغانستان ،روسیه ،کوزو،بالتیک ،دفارس په خلیج ،منځنۍ ختیځ ،قفقاز،منځنۍ اسیااوپه پاکستان کې یې وګورواوترڅیرنی لاندی ونیسو،اوهمدارنګه په حین وخت کې دهغه موضوعی ستونزي او دیوشمیرنورومسائلوپه ګډون لکه جغرافیایی پراختیا،نړیوال کیدل،تروریزم،امنیت،انرژی ،دټولیزووژنودوسلیودپراختیا په وړاندی مبارزه ، د توغندیو ضد د دفاعی سیستم ځای پرځای کیدل ،دسازمان دغړوترمنځ خپل منځی اختلافونه ،دمخدره توکودقاچاق په وړاندی مبارزه اودچټک اوګړندی عکس العمل دپاره ځواکونه دی چې ددغوستونزوپه وړاندی دغه ځواکونه رامنځته سویدی .

## دناټو دپاره مهمی ستونزي په لاندی ډول سره دي :

لمړی :- روسیه :دروسیی سره اړیکی اوددی هیواد سره تعامل کول دناټودپروخاصو ستونزوڅخه ګڼل کیږی د«ولادیمیر پوتین» دجمهوری ریاست دوره بیله کوم شک اوتردید څخه دروسیی دپاره دواکمنتیا دبیرته رامنځته کول اودزیار اوتلاښ دوره وواوددی موخی دپرځای کولواوتحقق ورکولو دپاره ،مسکودخپل ملی ګټوپه نظرکې لرلوسره زیاریې ایستلی دی چې دناټوسره هم تعامل ولري ،اوروسیه هیڅکله دختیځ پرلوردناټودپراختیا سره هم موافق ندی ،ځکه چې ددی هیواد امنیت اوملی ګټی دخطرسره مخامخ کیږی .

نوپه همدی ډول سره کولای سوچې دروسیی عکس العملونه په دی اړه دګواښ دهغه ادبیات څخه کار اخیستنه وبولو چې دخپلوګاونډیوهیوادونوپه وړاندی ترسره کوي ،پرګرجستان باند ی یرغل وکړ ،داروپا دمتعارفوځواکونودتړون څخه په یواړخیزه توګه ووتی ،اوپه استراتیژیکو سیمو کښې یی خپل راکیټونوځای پرځای کړل . که څه هم دناټو تړون تل یې په دی هکله زیارایستلی دی چې وروسانو ته ډاډ ورکړی ،اوناټوتل ټینګار کوي او وایی چې دجغرافیایی پراختیا طرحه اوهمدارنګه د توغندیو ضد د دفاعی سیستم

طرحه ، دمسکوپرضد ګواښ ندی اوهیڅکله به داهسی نه وي ،مګر دروسیی جګپوړی چارواکي په دی باندی نه دی قانع سوي اوله دی کبله دی چې روسان دمنځنی ختیځ ،لاتینی امریکا دهیوادونوسره داړیکودغښتلی کولو په لټه کې دی زیارباسی اوپه پام کې لری چې دروسیه – برلین ، روسیه – پاریس ، اودروسیی – چین محورونه انځوراورامنځته کړی .

دوهم :- جغرافیایی پراختیا اونړیوال کیدل : په نړیوال کچه ،دناټوپراختیا اوپه دی نظامي تړون کې دنوېوغړیومنل ، که څه هم چې دامریکا اودلویدیزوهیوادونوداوږ.دمهال موخواو ګټودتامنیولوپه لړ کې ګڼل کیږی ،مګر بیله کوم تردیده دغه پیل دسیمه یزو اونړیوالوځواکمنوهیوادونولکه روسیه ،چین او ایران دملی امنیت اودملی ګټوپرضد به سترګواښ وي اودغه کړنی به په خپله په ښکاره توګه سیاسي ستونزي اخ اوډب اونظامي شخړی به په مختلفوکچه سره په نړی کې رامنځته کړي ،دنړی دجوړه ولواودنړیوال کیدلودایډیاپربنسټ ،ناټوهرومروبه خپل وروونه (دراوزی) دنورودموکراتیکوهیوادونوپرمخ خلاص کړی اود« دموکراسی په اډی » باندی واوړی ،ځکه چې دناټوومخ ته نړیوال ستونزي دي ،نوهمدارنګه په همدی ډول سره ددی نظامي سازمان غړي او دکړنو پیل هم باید نړیوال وي .

**دریم :- دننه په ناټوکې دغړیوهیوادونوخپل منځی اختلافونه : ناټودخپلو موخو،داړخ نیولواوپلوی کولو،دجغرافیایی بشپړتیا اوپراختیا، اودخاصوکړنواوچارولە کبله په خپل دننه کې په خپل منځ کې (غړی هیوادونه) دکړکیچ سره مخامخ دی ، داجماع اصل،دغړیونابرابری ،نظامي اختلافونه اوله دی کبله پررامنځته سوی اختلافونه اوسوري سربیره دخپلوګټوپه اړه او په تاریخی سیالیوکې په اروپایی دوه رنګه اودوه ډوله محورسره په ناټوکې په یولړبرخوکې لکه په افغانستان،منځنی ختیځ،ګرجستان ،دنوېوغړیوپه منلواو** د توغندیو ضد د دفاعی سیستم په رامنځته کولو **سره دنوسان سره مخامخ سوی اوزړه نا زړه دی اووسوسی یې رامنځته کړی دي .**

**څلرم :- دانرژی امنیت : دایوه لویدیزه واژه ،لغت اوکلیمه ده چې اوسمهال دهغه تبه وختیځ ته،ددی جملی نه وایران ،هند،چین اوجاپان ته هم راکش سوی اورسیدلی دی ،دغه مفهوم ددایمی اوډاډمن ،اودمعقول قیمتونوپه وړاندی کولوسره دانرژیوپه حاملونوکې دودسوي اورامنځته سوي دي . هغه کسان چې دغه واژه استعمالوي ،په دی لټه کې دی چې د** ژئوپولټیکی، اقتصادی، تخنیکی ،سیمه یز ژونداودروانی ژوندرالویدلی ګواښونه دانرژیوپربازاربانده رالږ کړی . امادسیاست پوهانوپه هاند ددی واژی دکارونی څخه پر دی موضوع باندی څارنه ده چې په لاندنی فکټورونوباندی ټینګارکوي :

الف : بیله کوم کیدونکی خطره څخه دنړی دنفتواودګازوزریمی په اسانی سره ترلاسه سي .

ب : دغه زریمی په منطقی ډول سره په مختلفوډولونوسره دسیمه یزی جغرافیایی زریمواوهمدارنګه دواټن له کبله دانتقالولو وړ وي .

ج : په تولیزډول سره دنفتواودګازو دغه پروسه دی دهغوسیموڅخه تامین اوترلاسه سي چې هلته امنیت اوثبات وجود ولري اوپه دغه سیموکښې حکومتونه بدلون ونه مومی ،اودغه حکومتونه اوږدمهاله اوددېری مودی دپاره وي ،نوپه دی ډول سره دنفتواوګازومصرف کوونکی دانرژی امنیت دخپل لړلیدڅخه مطرح کوي اوداهم طبیعی ده چې مصرف کوونکی دخپل خاص تعریف په لټه کې له دی مفهوم څخه اووسي .
**د(۲۰۰۶) میلادی کال څخه دانرژیودامنیت موضوغ وناټوته په ټینګه سره وړاندیز اومطرح سواودناټودمشرانوپه سرمشریزه غونډه کې ،په یوه بیانیه کې دناټوڅخه وغوښتل سو چې خپله پاملرنه وهغو سیمواوحوزیوته ورواړه وي ځکه چې دغه نظامي سازمان کولای سي په راتلونکی کې زیاتره ارزښت ولري ،نوله دی کبله په ټینګه سره دی دمتحدینودامنیتی ګټواودامنیت دغښتلی کیدلوڅخه اودانرژی دترلاس لاندی جوړښتونوڅخه دی ملاتړوسي .**

**دغه لاسته راغله لاره په مشخص ډول سره وروسته دګازی کړکیچ درامنځته کیدوڅخه چې دروسیی اوداروپایی هیوادونوترمنځ دیوی نوې امنیتی ستونزي او خنډ دسرلیک په توګه رامنځته سو،نوددی نظامي تړون دورځنی کړنو په لمړی سرکې ځای ورکول سو.**

## دامریکا کړنلیکونه اوتګ لاري دناټودپاره :

**دشوروي اتحاد دړنګیدو راوروسته ،دامریکا دډېروخاصوسیاستونوڅخه یوهم دنړیوالو سازمانونو دواک اخیستل په خپل لاس کې وو ،یعنی د امریکاهیواد په خپل دی زیار اوهاندسره وکولای سوای چې دملګروملتونوسازمان په خپل واک کې یې ولري او ځانته دیوی وسیلی په توګه هغه امریکایی کړی دبیلګی په توګه دیوګسلاویا دهیواد په کورنۍ اوخپل منځۍ جګړه کې،امریکا دناټــودنظامیٍ واک څخه دصربستان دهیوادپرضد په کوزوکې بیله دملګروملتونود سازمان اودامنیت دشورا دموافقی څخه دغه نظامی سازمان یې وکارول اودامریکا نظامي ځواکونه دناټود پریکړی پربنسټ ،دبالکان بمباردایدل یې پیل کړ ،امریکا په څوتیروکالنوکې دامریکایی پلاوی په ګډون دناټوترپوښښ لاندی، په نړی کې خپلی دندی اوسیاستونه پرمخ بیایی .**

**واقعیت خودا دی چې امریکا وناټوته دوسیلی په ډول اودیوی غښتلی داهرم فشاردسرلیک په توګه دسیاسی اونظامي ځواکونود انډول دمنځه وړلودپاره په خپله ګټه دخپلوموخو دپلی کولو په خاطراودلویدیز داوږدمهال استراتیژی دمخته بیولودپاره دنړی** پرژئوپلیټیکواو ژئواستراتیژیکو **سیمو باندی چې ترخپل واک اولاس لاندی یې را ولی په همدی توګه ګوري اوزیار باسی ترڅوددغه لاری او دغه ډول کړنوپه وسیله غواړي چې دپخوانی شوروی اتحاد جمهوریتونه ترخپل کنترول لاند ی راولی اودروسیی دژونداوخلوت وسیمی ته ورننوزی .**

**امریکا په اوسمهال کې دناټوداصلی محرکه ځواکونوترسرلیک لاندی زیارباسی ترڅوددی نظامي تړون نوې جوړښت په یو بل انځورسره واړه وي ترڅووکولای سي چې په نړیوال** کړکیچونوکې ډېرکار ورنه واخلی . په اوسنی شرایطوکې امریکا تلاښ

کوي ترڅودناټودنظامي واک څخه دخپلوځواکونوپرځای دنړی په یو شمیر سیموکښې دهغه جملی نه په افغانستان کې دناټودځواکونوڅخه کار واخلی امریکا ددی کبله په دی خاطرزیاریږي ایستلی دی هغه داچې افغانستان یو اسیایی هیواد دی او نه یواروپایی هیواداودجغرافیاوی له کبله په ټولیزه توګه دناټودواک دسیمی څخه لیری پروت دی نوغواړي دناټوسره په دی هکله یو استراتیژیک تړون امضا کړی . که څه هم ناټوپه رسمی توګه په (۲۰۰۳) میلادی کال کې دنړیوالو ځواکونوقومانده یې په افغانستان کې دبیا ثبات دراوستلواوټینګولو،دامنیت دتامینولو،دبیا روغاونی دپاره یې په دی هیواد کې په غاړه واخیست ،مګر اوس مهال افغانستان لا تراوسه پوری دجګړی ،آخ اوډب اودشخړوډګر دی اوتروریزم په دی هیوادکې وخپل ژوندکولوته ادامه اوپایښت ورکوي اودپراختیا په حال کې دی .

افغانستان اوسمهال دناټودځواکونواوخصوصاً دامریکائیانو دپاره یولوی خنډاوستره ستونزه ده .دامریکا نوې دولت دیوی خوانه نه سي کولای چې اړین امنیتی شرایط دناټودپاره دمرسته په خاطر رامنځته کړی ،اودبلی خوا نه ،دخپلی استراتیژی له کبله هم نه سي کولای چې دخپلودښمنانودبریالتوب نندارہ کوونکی اوکتوونکی اووسي . دناټواوسنی شرایط په افغانستان کې او ددی خنډونواوستونزوڅخه دوتلولاره ، په دونی اندازی سره د ناټوونظامي تړون ته ارزښت لري چې ددی نظامي تړون یوشمیر غړی هیوادونه په دی باور دي چې دناټوسرلیک د (۲۱مه) یوویشتمی پیړی دپاره دافغانستان دهندوکش په غرونوکې ټاکل کیدی سي ./

(نوربیا،په نوولسمه برخه کې ادامه لري)

اخیځلیکونه : دقطره نیوز ،آفتاب نیوزاو دریانووستی څخه .